## د کونړسیا سي، قومي او روحاني جوړښت او د دود نو ارزښت

## د شاه محمود میا خیل

## لیکنه

## د کنفرانس نیټه ۲۶ فروری میاشت ۲۰۱۲ م کال

## دکونړولایت مرکز د اسعد آباد ښار

د ۲۰۱۲م کال د جنوری په ۱۴ نیټه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مرستیال، پوهنمل غلام نبي فراهي تر مشرۍ لاندې په دغه وزارت کې یوه غونډه چې موخه یې د کونړ ولایت د اهمیت په هکله د یو علمی سیمینار جوړول و، جوړه شوې وه. دغې غونډې ته چې فراهی صیب زه هم بللی وم، په کابل کې مېشتو کونړیو یو شمیر لیکوالانو، پوهانو او استادانوته هم بلنه ورکړل شوې وه چې د دې مهم، تاریخي او پر محتوا سیمینار په هکله ترې مشورې واخلي او د یاد سیمینار په جوړیدو او ورته د مقالو په لیکلوکې مرسته وکړي. په دې غونډه کې د افغانستان راډیو او تلویزیون رئیس تکړه لیکوال ښاغلي زرین انځور هم برخه درلوده.
دغونډې په پایله کې اکثرو لیکوالانو ته دنده ورکړه شوه چې د کونړ د سیمي په سیاسي، تاریخي، جغرافیایي، قومي اوستراتیژیک اهمیت باندې د تاریخ په اوږدوکې د دغه سیمینارلپاره چې د ۲۰۱۲ م کال د فروری میاشتې په اخره کې د کونړ ولایت په مرکز، اسعدآباد (چغه سرای) کې به دایرېږي، مقالې ولیکي. په دې لړ کې ما ته هم دنده راوسپارل شوه چې د پورته عنوان لاندې یوڅه ولیکم. ما ددې مشرانو، لیکوالانو، استادانو او پوهانو په اصرار سره زړه نازړه د دوی دا غوښتنه ومنله ځکه چې د داسې مهم، علمي او څیړنیز مضمون د لیکلوپوره توان ما په ځان کې نه لیده اوهم یې زیات وخت ته اړتیا درلوده چې باید پوره تحقیق او څیړنه دکونړدسیمې په هکله وکړم تر څو وکولای شم چې په ټولواړخونو باندې پوره رڼا واچوم. . په هر حال ما د دې مشرانوغوښتنه ومنله او دالنډه مقاله می ولیکله.
اصلي مشکل دا دی چې زمونږ د هیواد افغانستان تاریخ د وخت د زمامدارانو د ویرې او یا ممانعت له امله د مورخینو او لیکوالانو له خوا په سمه توګه نه دی لیکل شوی او اکثره زمونږ تاریخ په نورو ژبو لیکل شوي دی نو په دې توګه زمونږ په ملي ژبو او خاصتا په پښتو ژبه کې ډېر کم معلومات مونږ د خپل تاریخ په هکله لرو. همدا شان په مکاتبو کې مونږ هم خپل تاریخ نه دی لوستلی او یوازې مو کرونولوژي یعنې د تاریخي پیښوفهرست لوستلی دی. زمونږ تاریخ اکثره پردیو په خپلو ژبو لیکلی دي چې زمونږ د ولس زیادتره وګړي ورسره نا آشنا یا د خپل تاریخ څخه نا خبره دي. که مونږ تیرو درې څلورو لسیزو ژوندي تاریخ ته نظر واچوو نو اوس هم مونږ دا نیمګړتیا لرو چې د خپل وخت او ماحول تاریخي پیښې پخپله نه لیکواو نور یي زمونږ په هکله لیکي . زما هیله د ټولو افغاني لیکوالانو نه دا ده چې د خپل وخت پیښې باید پخپله ولیکي ځکه چې دافغانانو برداشت د یو خارجي له برداشت نه خورا توپیر لري او په دې توګه به مونږ وکړای شو چې د خپل ځان په هکله یو صحیح انځورخپل راتلونکي نسل ته وړاندې کړو.

په لومړي سر کې د دی خبرې  یادونه کوم چې دا مقاله د یوی مقدمې په توګه ده اوخدای جل جلاله دې وکړي چې په راتلونکي کې زمونږ ځوان او تکړه لیکوالان د کونړ ولایت کلیو، باندو او ولسوالیو ته سفرونه وکړي او دا زما نیمګړي معلوماتو د پوره کولو په هکله نور هم تحقیق او ریسرچ وکړي او خپلو وطنوالو ته با ارزښته معلومات وړاندې کړي.  د سوسیالیژی یا ټولنپوهنې د علم په اساس د یوې  ټولنې جوړښت او دودنه د ټولنې په انکشاف کې خورا اهمیت لری.  زما په اند مونږ ته په کار ده چې خپله ټولنه په سمه توګه  وپیژنو ترڅو و کړای شو چې په سمه او سالمه توګه خپلې ټولنې ته د خدمت جوګه شو. که مونږ خپل تیر تاریخ ته نظر واچوو نو دا جوتیږی چې زمونږ د پخوانیو مشرانویوه لویه اشتباه همدا وه چې دوی خپله ټولنه سمه نه پیژندله او د داسې پروګرامونو پلې کول یې غوښتل چې زمونږ د ټولنې دخپل وخت د عینی او ذهنې شرایطو سره یې خورا توپیر درلودلو نوځکه زمونږ ټولنې ته یې په عوض د دې چې ګټه ورسوې ډیر زیانونه یې ورته ورواړول چې تراوسه پورې مونږ د تیرو رژیمونو د داشتباهاتواو کړونو تاوان ورکوو. که مونږ بیا هم خپله ټولنه په سمه توګه ونه پیژنو نو زمونږ د دې پیر(دور) مشران به هم د پخوانیو په شان اشتباوی تکرار کړي چې زمونږ راتلونکې نسلونه به زمونږ په شان د تیرو نسلولونو د اشتباهاتوپه خاطردرانده تاوانونه ورکړي.
دا مقاله په څلورو برخو ویشل شوې ده چې په لومړۍ برخه کې د کونړدسیمې په اداری او سیاسي جوړښت او په دویمه برخه کې د کونړ په قومی جوړښت باندی یو څه رڼا اچول شوي ده. همدا شان په دریمه برخه کې د کونړ په سیمه کې د روحانی او دیني جوړښت او نفوذ او په څلورمه برخه کې د کونړدسیمې په بعضی دودنو او رواجوانوباندی رڼا اچول شوې ده چې د کونړ دسیمې په انکشاف او پرمختګ کې یې د تاریخ په اوږدوکې خورا مهم رول لوبولی دی. د دی مقالې محتوا په تیرو دری څلور لسیزو کې د کونړولایت ته زما د کاري سفرونواو د خپلې ولسوالۍ (خاص کونړ) کې د اوسیدو او خلکو سره د پوښتنو او مرکو محصول دی چې یوه زیاته برخه یې زما په دوه کتابونو **«د واقعیتونو په بهیر کې»** او**«بیرني لویه جرګه او مشرقی په ولایاتو کې د انتخاباتوبهیر»** کې چاپ شوي دي. همدا شان د دی معلوماتو یوه بله برخه په دوه نورو مقالوکې چې ما په انګریزی ژبه لیکلی چې یوه یې د قومی جوړښت اوپښتونولۍ ارزښت په امنیت او اداره کې

The Importance of Tribal Structure and Pakhtunwali in Afghanistan: Their role in Security and Governance چې په هند کې د مولانا عبدالکلام آزاد د انستیتوت له خوا په ۲۰۰۸ م کال کې او بله مقاله د بشری امنیت اود قانون حاکمیت: د افغانستان د تجربه تر عنوان لاندی

( Human Security and the Rule of Law: Afghanistan's Experience) د قانون د حاکمیت په نامه د یوکتاب[1] مقاله ده چې په ۲۰۱۰ م کال کې د لندن د کیمبرج پوهنتون له خوا خپره شوی ده. همدا شان ما دیو شمیرنورو انګریزی ژبی د موخذونو نه هم استفاده کړی ده.

**آول: د کونړدسیمې اداری او سیاسي جوړښت:**

د کونړسیمه چې د افغانستان په شمال ختیځه برخه کې پرته ده د شمال ختیځ او سهیل له خوا د کوزی پښتونخوا د چترال، دیر، باجوړ، او مومندو د ایجنسۍ سره نښتي ده چې د لویدیځ له خوا د لوی ننګرهار

---

[1] The Rule of Law in Afghanistan: Missing in Action, edited by Whit Mason and published by Cambridge University Press in 2011.

سره او د شمال له خوا د نورستان او لغمان ولايتونو سره نښتي ده. د ویکی پیدیا د معلوماتوپه اساس په سلو کې ۸۶ د کونړ سیمه غرنی ده او تقریبا څلور لکه او دیارلس زره نفوس لری. د کونړ مساحت ۴۳۳۹ کیلومتره مربع دی[2]. د کونړ نوم د کونړ د کلی نه اخستلی شوی دی چې د خاص کونړ په ولسوالي کې موقعیت لری. د پخوانو مشرانو په قول، د کونړکلی پخوا د کونړ دحاکمانو د یوی برخه مرکز و. د کونړ د کلی سهیل پلوته د سرکاري باغ په نامه ځای اوس هم هلته شته خو د باغ اثاراوس نه ښکاري. دا چې امان الله خان د لوی خان میرزمان خان سره وروري درلوده نو دا ځمکه او باغ یي د میرزمان خان مشرې لورته چې زما دمور له خوا نیا وه په ځوروکي کې تحفه ورکړی وه. زما د مشر تره، وکیل عبدالقادر په قول چې تقریبا دری دیرش کاله پخوا داتیا کلونونوپه شاوخواکې وفات شوی دی ما ته ویلی و چې د کونړولایت مرکزد کلونو په اوږدو کې د خاص کونړنه څوکې ولسوالی ته، وروسته د نرنګ ولسوالي ته او باالاخره چغه سرای (اسعد آباد) ته انتقال شوي چې اوس هم د کونړ ولایت مرکز دی.

په شپاړسمی پیړی کې د کونړ د شینکوړک سیمه شنوارو ددغه سیمې د کافرو نه ونیوله او دوی یي د شمال خوا ته وتنبول. همدا شان ساپو هم په همدغه وختونوکې د پیچ دره د هغه سیمې د کافرو نه نیولی ده. په ۱۸۲۰ م کلونو کې د ماموندو قوم د باجوړد میر علم خان په مشری د چغه سرای او شیګل سیمې ونیولې چې مخکې دا سیمې د اسمار د خانانو له خوا اداره کیدلې. همدا شان مومندو، شنوارو او ساپو قومونو به د پښد خانانو ته چې سیدان و بیعت درلوده او باج به یي ورته ورکاوه. د پښد پاچیان د پیربابا لمسي و چې په شپاړسمه پیړی کې د میرعباس له خوا چې په پښد کې د میا عباس بابا په نامه یادیږی د لومړی ځل لپاره په دغه سیمه کې روحانی نفوذ ټینګ کړ. ورسته د میرعباس زوی، سید عبیدالله د خپل حکمرانی قلمرو تر کوز کونړ د پیا کوه تنګي دسیمې پوری چې اوس د ننګرهارولایت سیمه ده وغځوله. د سید عبیدالله نه وروسته سید لطیف او د هغه نه وروسته سید نظیف د کونړد سیمې حاکمان و. د پښد سیدان د ۱۷۷۰ـ۱۸۲۵ کلونو پوری دکونړحاکمان و چې پښد یي د حکمرانی مرکزو. د پښد حاکمانو به د کال تقریبا د ۶۰۰۰۰ نه تر ۸۰۰۰۰ روپۍ دکونړد خلکو نه باج اخسته او د دوی رابطه دافغانستان د سدوزايي اومحمدزايي حاکمانو سره صرف په نامه وه او یوازی کله کله به یي د جنګونو په وخت کې یو څو اسپونه ورکول

په ۱۸۰۰م کال کې سید نظیف د شاه زمان د ناسکه ورور شاه محمود سره فوځي ملاتړ وکړاو د شاه زمان په شکست کې د سید نظیف ملاتړمهم رول ولوباوه خو کله چې دشاه زمان سکه وروړشاه شجاع په ۱۸۰۳ م کال کې قدرت ونیوه نو د کونړ په سیمه یي یرغل یوړخودسید نظیف شخصي شناخت د دغه قواو د قوماندان، عرض بیګی اکرم خان پوپل زایی سره د دی باعث شو چې هغه ته یي پنځه زره روپۍ رشوت ورکړاو دغه سیمه د هغه د کنترول لاندی پاتي شوله. کله چې په ۱۸۱۸ م کال کې د قدرت په سر کشمکشونه د محمدزايي مشرانوتر منځ پیل شول او شاه محمود د قدرت نه لری کړی شو نوپه دغه وخت کې د امیر دوست محمد خان یو شمیر خپلوان په جلال آباد کې اوسیدل. کله چې محمد اعظم خان په کابل کې قدرت ونیوه نو د هغه وراره، سردارنواب محمد زمان خان د سید نظیف سره فوځی مقابله وکړه اوپه

[2] http://en.wikipedia.org/wiki/Kunar_Province

۱۸۲۱م کال کې محمد اعظم خان پخپله د کونړ سیمې ته ورغی او سید نظیف یې دی ته مجبوره کړ چې د خیوی (کوزکونړ) سیمه پرېږدی اودغه سیمه یې د جلال آباد دوالي پوری وتړله او هم یې د هغه نه ۸۵۰۰۰ روپۍ باج واخسته.

کله چې په ۱۸۲۳ م کال کې محمد اعظم خان مړ شو نو د محمدزو د مشرانو تر منځ د قدرت په سر جګړې زیاتې شوی او د دوی توجه د کابل نیولو ته واوخته خو سید نظیف په سیمه کې د باجوړد خان میر علم خان له سخت رقابت سره مخامخ و او مجبور شو چې د میرعلم خان سره ښیخی (خپلوی) وکړی اود هغه خور سره یې واده وکړ چې ددی ښځه نه یې څلوز زامن وشول چې فقیر، امیر، عباس او شهباز نومیدل. د سید نظیف دی زامنو غوښتل چې د خپل ماما میر علم خان او د ناوګې دخان، امیرخان په ملاتړ د خپل ناسکه ورونو، محی الدین، بهاوالدین، هاشم او حسین په پرتله په سیمه کې نفوذ زیات کړي تر څو د خپل پلار د مرګ نه وروسته قدرت ترلاسه کړی. په ۱۸۲۴ م کال کې سید نظیف د ناوګې سیمې ته د خپلو زامنو سره ورغي ترڅو میر علم خان په دې قانع کړي چې د امیرخان سره دشمنی ختمه کړی خو په جرګه کې د سید نظیف ځوی سید فقیرخپل ناسکه ورور محی الدین په چاقو وواهه او هغه یې مړکړ. ددی نه وروسته سید نظیف ، سید فقیر او د هغه سکه ورونه د پشد د مرکز نه لری کړل اودچغه سرای، شیګل، سرکانړو او دونایي په سیمو کې چې وروسته پاتي سیمې وې ځکه کمې ځمکې یې درلودي، حاکمان مقرر کړل او بهاوالدین ته یې د ټول کونړ قدرت وروسپاره. د دی کار نه وروسته سید فقیر په ښکاره د خپل پلار په مقابل کې بغاوت وکړ او د چغه سرای او شیګل سیمې یې خپل ماما میر علم خان ته او د سرکانړو او دونایي سیمې یې د ناوګی خان، امیر خان ته پریښودی تر څو د هغه سره مرسته وکړی اوخپل پلار نه قدرت ونیسي. که څه هم د ده ماما او د ناوګی خان د سید فقیر سره په خپلو وعدو چې مرسته به ورسره کوي وفا ونه کړه خو سید فقیر وشوکړای چې په خپل امکاناتوپه ۱۸۲۵ م کال کې خپل پلار سید نظیف ونیسي او وروسته یې ووژنی او دکونړ مرکزی سیمه (پشد) ونیسي خو د کونړسهیل لویدیځه سیمه (خاص کونړ) د سید بهاوالدین تر کنترول لاندی پاتي شوه. داوضعیت تر ۱۸۳۴ م کال پوری دوام وکړ تر څوامیر دوست محمد خان جلال آباد د خپل وراره، نواب محمد زمان خان نه ونیوه. څرنګه چې سید فقیر د نواب محمد زمان خان پلوی و نو هغه یې هم د قدرت نه لری کړ او د لغمان چارباغ سیمې ته یې ولیږه چې په دی توګه سید بهاوالدین یواځینی حاکم د کونړ پاتي شو او ددی وعده یې وکړه چې په کال کې به ۱۹۰۰۰ روپي باج امیر دوست محمد خان ته ورکوی.

څو کاله وروسته امیر دوست محمد خان د جلال آباد والي ته چې محمد اکبر خان و امر وکړ چې سید بهاوالدین په دی بهانه چې ګوندې د انګلیس یو جاسوس ته چې د شهزاده تیمور سره مراوده (دلیکنی ارتباط) درلوده ځای ورکړی، ونیسي. هماغه وچې محمد اکبرخان کونړ ته لشکر کشي وکړه او د بهاوالدین دارایي چې تقریبا یو لک روپي کیدې قبضه او د هغه ورور، هاشم یې د کونړ حاکم مقرر کړ اود پخوا په پرتله نه زره اضافه روپۍ باج یې پرې ومانه. کله چې انګریزانو په افغانستان یرغل وکړ، د بهاوالدین بخت بیا بیداره شو. که څه هم سید هاشم تر۱۸۳۹م کال پوری د کونړ سیمه په خپل کنترول

کې وساتله خو په ۱۸۴۰ م کال کې سید بهاوالدین د انګریزانو په مرسته د کونړ واګې بیا په لاس کې ونیولی او سید هاشم د انګریزانو له خوا یوازې مستمره تنخواه ومنله.

د امیر دوست محمد خان په دویمه دوره کې، سید بهاوالدین د کونړحاکم پاتي شو تر څو چې د هغه نه وروسته په ۱۸۶۶ م کال کې د هغه زوی سید محمود د هغه په ځای د کونړحاکم شو. په دغه وخت کې د کونړمالیه تقریبا دیرش زره روپۍ اټکل شوی وه چې ددی پیسو نه به شپاړس زره روپۍ سید محمود پاچا د خپل خرڅ لپاره اخستلې او نوری پاتې پیسي به يي په کابل کې د سدوزایو کورنی ته ورکولې. سید محمود پاچا تر ۱۸۸۳ م کال پوری د کونړ حاکم و او د محمد اکبر خان سره يي نږدې اړیکي درلودې او د هغه د لور سره يي واده هم کړی و. کله چې د ۱۸۶۶ نه تر ۱۸۶۸م کلونو تر منځ په کابل کې د قدرت په سر شخړې روانې وې نو سید محمود پاچا ډیر سخت پلوی د امیرشیر علی خان و او په ۱۸۷۰ م کال کې چې کله امیر شیر علي خان خپله دیارلس کسیزه مشورتي جرګه جوړه کړه نو سید محمود پاچا د دغه جرګه غړی و. همدا شان سید محمود پا چا د دیر او باجوړ د خانانوسره د امیر شیرعلی خان د رابط په توګه رول لوبوه او ده د امیر شیر علی خان په دربار کې د سرحدی سیمو په اړوند تصمیم نیولو کې خورا نفوذ درلوده خو يوائځنی مشکل چې د امیر شیرعلی خان سره يادونه شوی هغه سید محمود پاچا نه غوښتل چې د کونړد عایداتو یوه برخه خپل مشر ورور حسام الدین ته ورکړی او په عوض د کې امیر شیر علی خان د کونړ د غربی برخی عاید چې د حکومت ځانګړی برخی عاید و او تقریبا دولس زره روپۍ کلنی کیدلې هغه ته ورکولې[3]. د پښد تاریخی پادشاهی قلعه د کونړ د مهو تاریخی قلعه ګانو نه وه چې اوس هم د دغه قلعه اثار یوڅه شته چې د پښد د کلی نه تاو شوی وه.

د سید محمود پاچا د لټانو کیسه په کونړ کې خورا مشهوره ده او اوس هم چې څوک لټ او نار استه وي نو خلک ورته وايي چې ته خو د سید محمود پاچا لټ يي. قصه داسي وه چې وايي د سید محمود پاچا په دربار کې به بیکاره کسان همیشه پراته و او هیڅ کار به يي نه کاوه. باالاخره د دی لټانو شمیر ورځ په ورځ زیاتیدو نو یووخت سید محمود پاچا ته چا ویلی و چې دا لټان هسي بیکاره پراته دی، که دوی په ربښتیا لټان وی او کار نه شی کولي نو د دوی په شاوخوا کې اور ولګوه که څوک په ربښتیا لټ وی هغه به ونه تښتي او که چا هسي په لټی ځان وهلی وی نو وبه تښتي. په دی توګه به د اصلی لټانو او غیرو لټانو فرق وشي. کله چې د دی لټانو په شاوخوا کې اور ولګاوه نو یو شمیر زیات يي وتښتیدل او یوڅه پاتي شول چې يو شمیر يي دومره لټ و چې خپل ملګرو ته به يي ویلی چې مونږ فریاد هم نه شو کولي او زمونږ له خوا فریاد هم تاسي کوي چې وسو
کله چې امیرعبدالرحمن خان په کال ۱۸۹۵-۱۸۹۶م کلونو کې د کونړ او نورستان سیمې د خپلی کنترول لاندې راوستلې نود پښد د پاچیانوحکمراني په کونړ باندې ختمه شوله او کونړ د امیرعبدالرحمن خان د پادشاهۍ په وخت کې د کابل د مرکزی حکومت اداري واحد شو چې شرقي اومرکزي نورستان سیمي هم په کې شاملې وې. د کونړسیمه په دریو حصو وویشل شوه چې د برکونړ (اسمار) سیمه، د خاص کونړ

---

3 **State and tribe in nineteenth-century Afghanistan**: the **reign of Amir Dost** Muhammad Khan (1826-1863). By **Christine Noelle**

سیمه او د کوزکونړ (خیوه) سیمه. د اسمار په سیمه کې یوغنډ و چې وروسته په لوا او د ثور د کودتاه نه وروسته فرقه شوه. همدا شان په سرکانو او خاص کونړ کې هم فوځي قطعات د سرحد سره پراته وو.
وروسته د کونړ سیمه د لوی ننګرهاریوه برخه وه. ریس تنظیمه (د مشرقی د سیمې مشر) به په جلال آباد کې او کونړ، لغما ن او شنوارو کې به حاکم آعلی چې د حکمران په نامه هم یادیده د مرکزي دولت له خوا حکمروایي کوله. په ۱۹۷۷ م کال کې کونړ، د لوی ننګرهارنه جدا شو او مستقل ولایت په توګه وپیژندل شو[4]. په ۱۹۸۹ م کال کې چې کله د نورستان په نامه ولایت جوړ شو نو شرقی (ختیځ) نورستان (کامدیش او برګیمتال ولسوالي) او هم مرکزی نورستان (ویګل او پارون سیمې) د کونړ ولایت نه جدا شولې او د نورستان ولایت برخي وګرځیدلې. په دی توګه د لویدیځ (غربي) نورستان سیمه چې د لغمان ولایت ولسوالي وه د لغمان نه جدا او د نورستان د ولایت پورې وتړل شوله.
اوس مهال د کونړ ولایت د مرکز (اسعد آباد) په ګډون پنځه لس اداري واحدونه یعني ولسوالی لري. دغه ولسوالی د نورګل، څوکی، خاص کونړ، سرکانو، نرنګ، مروره، وټه پور، پیچ، چپه دره، شیګل، اسمار، دانګام، ناړۍ او غازی آباد[5] په نومونویادیږي.
د تاریخ په اوږدو کې د کونړ سیمه د لویو امپراطوریو له خوا د هند په نیمه وچه باندی د حملولپاره خورا مهمه وه چې د دی سیمې نه به تیریدل اودهند په نیمه وچه باندی به یې خپلو حملو ته دوام ورکاوه لکه سکندر مقدوني د کونړد سیمې نه باجوړ ته پورې واته او[6]همداشان ظهرالدین بابر[7] او تیمورلنګ هم د کونړد لارې د هند په نیمه وچه باندی خپلو حملو ته دوام ورکړی دي.
په معاصرتاریخ کې هم د کونړسیمې خاص اهمیت درلودلی دی او د کابل مرکزی حکومت همیشه کوشش کړی چې د کونړ د سیمې نه د حکومت پرضد د تهدیداتو مخه ونیسي او هغه خنډونه چې د حکومت پرضد به احساس کیدل له منخه یوسي چې ځو بنې بیلګې یې د ۱۳۲۴هجری شمسي کال کې د ساپوانقلاب او په ۱۳۵۷ کال کې د ثور د کودتاه نه وروسته د کونړ د خلکو پاڅو ن د حکومت پرضد بنې نموني دي. همدا شان د کونړ په تاریخ کې نور مهمی پیښې هم شوي چې په خاص کونړ کې د ننګریزانو انقلاب، د پشد د سیمې د ګلاپرې انقلاب اود باجوړد جګړو یادونه ضروری ده چې البته ددې پیښو د عواملو په هکله زیاتوځیړونو ته ضرورت دی. هغه څه چې ما د مشرانو نه اوریدلي غواړم په اجمالي توګه دلته د دې پیښو په هکله یوڅه یادونه وکړم. په کونړکې د حکومت پرضد پاڅونونه په عوامو کې د انقلاب په نوم یادیږي. د دغه پورته پیښو په هکله ډیرې کمې لیکنې شوي او د دې ضرورت دی چې زیاتې نورې ځیړنې وشي تر څو دا نیمګړې معلومات غني شي.

---

[4] http://books.google.com/books?id=tp5IrLhWbTkC&pg=PT459&lpg=PT459&dq=Kunar+province+become+part+of+nangarhar+province+in+1977&source=bl&ots=p8-a35Mjfh&sig=W_7dfV7AU1ponWodZSbx7PQdmk8&hl=en&sa=X&ei=isMmT7LWFeLHsQKQmOiMAg&ved=0CC0Q6AEwAg#v=onepage&q&f=false

[5] دغازی اباد ولسوالی چې پخوا د اسمار د ولسوالي برخه وه دځونک د غازی خان چې اصلي نوم یې محمد غازی چوپان و، ونومول شوه. غازی چوپان په ختڼه نورستاني واو د جهاد په کلونو کې د سین دره د مجاهدینو مشروچې په ورستیوکلونوکې د ځنګلونود قطع کولود مافیا له خوا چې ده یې مخ نیوي کاوه د دیراو چترال ترمنځ چې کمین یې ورته نیولی و شهید کړي شو. غازی چوپان چې زما نږدی ملګری و خورا زړه ور، میلمه پاله او په وطن مین شخصیت و. روح دی ښاد وي.

[6] http://books.google.com/books?id=95qY0qz93ZUC&pg=PA121&dq=Alexander+great+in+kunar&hl=en&sa=X&ei=RskmT8PbHu-DsgK_-OyMAg&ved=0CD4Q6AEwAg#v=onepage&q=Alexander%20great%20in%20kunar&f=false

[7] http://en.wikipedia.org/wiki/Babur

**د ساپو پاڅون:**

د ساپود پاڅون مهم دليلونه دوه و چې يو يې د نفوسو يا جبري عسکرۍ نه منل او بل د ناروا ماليه اخستلو مسلې وې ددې عمومي نفوسو ورکول نه د مخه هشت نفرى وه چې د اميرعبدالرحمن خان په وخت کې په خلکو منل شوې وه چې د هرو اته نارينه نه به يو کس د عسکري خدمت ته ليږل کيدل خود سردارهاشم خان دصدارت په وخت کې حکومت غوښتل چې جبري عسکري عامه کړي يعنى هر څوک چې دوه ويشت کلن شي بايد دعسکرۍ خدمت وکړي. په ابتدا کې عسکري خدمت دوه کاله و خو د داود خان په وخت کې هغه چا چې مکتب نه وويلی دوه کاله، دولسم پاس به يو کال او چا چې فاکولته (لسانس) درلوده نو شپږمياشتي د عسکري خدمت دوره تيروله. که څه هم د نفوسو مسله اصلی عامل ګڼل کيده خو په اصل کې د محلي چارواکو ظلم او ناروا ماليه ولس تر سپنګمو(پوزي) رسولی واو ددى د پاسه يي د خلکونه نفوس هم غوښته.

څرنګه چې د کونړ سيمه غرنۍ او د خلکو عايد ډير کم اوحتي په وچه ډوډۍ په ګيډه هم ماړه نه و خو ددې سره د وخت حاکمانو د خلکو نه زيات باج او ماليه اخستله. په هغه وخت کې سه کوټي ماليه وه چې د درې حصو د حاصلاتونه به يوه حصه حکومت اخستله. کله به چې د درمند وخت شو نو مامورماليه او موظف کسانو به درمندو نه لومړى مهرولاک کړل او دهغه په مخ کې به درمند بايد تلل (وزن) شوى وى. حتى داسې هم کيدل چې مامور د ماليه به وخت نه درلود اوټول درمندونه به يي په خپل وخت نه شوتللی نو که باران به وشو زيادتره درمندونه به خرابيد ل اودخلکو د خوله رزق به د له منځه تله او خرابيده. کله چې به بيا د ماليه د ورکړې اندازه معلومه شوله نو زميندارو‌ته به يي ويلې چې دا د ماليه بوس او دانې (حاصلات) د حکومت په ګودامونو کې چې يو يي په اسمار او بل يي په کوز کونړ کې و داخلي (تحويل) کړي او د ګدامدارنه بايد سند واخلي. لومړى د دې حاصلاتو انتقال خورا ګران کار و ځکه ترانسپورتي وسايط نه و او زميندارو به په حيواناتو(څارويو) دا دانې انتقالولي او هم به مجبور و چې ګدامدار ته د دانوپه تحويلولو رشوت ورکړى ځکه ګدامدار صيب به کړى وړى (هغه دغه) کول چې لومړى درجه دانې بايد تحويل کړي. همداسې ماليه دچهل يک په نوم چې خلکوبه ورته چيلک ويل په بزو، غواګانو او حتی په غوړو هم وه. نو ولس مجبوره و چې دخپلو ځکمونه په پکو(تنګ) شي او پريخستلو ته به مجبوريدل.

هماغه و چې د کونړخلکو د نفوسو د ورکولو پرضد پاڅون وکړ. داپاڅون شپږمياشتي دوام وکړچې د کونړ ډيرې سيمي د حکومت له خوا بمباري شولې او په سل ګونوکسان د حکومت له خوا ووژل شول. حکومتي عسکروته هم خورا زيات تاوان اوختی و.

د جنګ نه وروسته د ساپوزيات مشران د کونړ نه فرار او د افغانستان نورو سيمو ته تبعيد شول. د دى انقلاب مشران شهسوار، سليمى او امان الملک د بلخ ولايت د شولګره ولسوالی ته، او يو شمير نور د ساپو مشران لکه سلطا ن محمدخان د پيچ، شبرغان ته او لعلو جان د بلخ ولسوالي ته فرار (تبعيد) شول

چې د دی کورنیو یو شمیرزیات غړی اوس هم هلته اوسیږي. د کونړیو شمیر نوری مشهورې کورنۍ لکه د لوی خان میر زمان خان کورنۍ د ساپو د پاڅون په وخت کې هرات ته، د وټه پور د محمد امین خان، جمدر خان او اکبرخان کورني شبرغان ته فرارکړی شوې چې د دیموکراسۍ تر لسیزې پورې (۱۹۶۴ م کال پوری) دوی ته د دې اجازه نه وه چې کونړ ته راشي او خپلو کوروونو کې واوسیږي. د میرزمان کورنۍ ټول غړي نارینه یي لومړی دیارلس کاله د کابل په دهمزنګ بندیخانه کې او ښځینه غړي یي د کابل د قلاچې په سیمه کې د دوی په کور کې بندیاني وې چې دغه قلعه وروسته د ښځو د محبس په نامه یادیدله ځکه نورې ښځینه بندیانې به یې هم د دوی کورته راوستلې او د دوی قلعه د ښځو د محبس په نوم شهرت وموند. د دې بندیخانې نه وروسته، د میرزمان کورنۍ هرات ته تبعید شوله او اته کاله نوره هم هلته وه. زما مشر ماما خدای ښښلی وکیل عبدالجلیل ملنګ په هغه وخت کې تازه د شپږم ټولګي نه فارغ شوی ونو زما نیا هرات ته ولیږه چې د وروونو احوال ورته راوړي خو کله چې حکومت ددې نه خبرشو په دې پلمه چې ګوندې د حکومت پرضد فعالیت کوي ، شپږ کاله یي بندي کړ او ویي نه شو کړای چې خپلو لوړو زده کړوته دوام ورکړي. د اروابناد محمد هاشم زماني د زنداني خاطرو په نوم کتاب د دغه دورې د ظلمونویوه ښه نمونه ده چې هر افغان یي باید ولولي.

ویل کیږی چې د وخت ملایانو د ساپومشرانو ته ویلي و داچې تاسي د پادشاه پر ضد اغتشاش کړی نوستاسي مړي شهیدان نه دی نو ښه به داوي چې تاسي هم د خپل ځان لپاره پادشاه وټاکئ چې ستاسي مړي د شهیدانو په قطارکې حساب شي ځکه بیا ستاسي جګړه به دبلې پادشاهۍ سره وي. هماغه و چې ساپومشرانو شهسوار د پادشاه، سلیمی د صدراعظم او امان الملک د دفاع د وزیرپه توګه وټاکل. امان الملک چې په ملک ساپي مشهورو ما پخپله په پیښور کې لیدلی وچې فوځي کرتۍ او خولۍ به یي په سر کوله. د دغه او نورو جنګونو په هکله محلي زیاتې لنډۍ او سندرې ویل شوي دي. د ساپو د جنګ په هکله د یوې لنډۍ یادونه راته پوهاند ډاکټرمحمد قاسم جمدرپه دی توګه وکړه:

په ساپو کې سلیمی و
د توری زمری و
ډاکې به یي اچولې د ښوکی په رباط[8]
عسکر یي کړل بربا د

نوری داسي ډیري ټیکۍ او سندرې د سا پود جنګونو په هکله ویل شوي دي. هغه وخت چې جنګي الوتکې ډیرې پر مخ تللې نه وې نو د سورلکۍ او شین لکۍ جهازونو(الوتکو) په نومونوبه یادیدلې . ویل کیږي چې یوه ددې الوتکونه غورځیدلې وه نو ددې الوتکې د راغورځیدو په هکله دا ټیکۍ ویل شوې ده:

---

[88] دښوکي رباط د ځاینوم دي چې د ښوکي ولسوالي مرکز اوس هم هلته دي او پخوا د رباط په نو یادیده چې د مسافرو تم ځای او عسکري قشله به هلته وه.

د سليمي دی حکمت ته ګوره
جهاز يي راکوز کړلکه زرکه په ټوپونو

دا چې ډير کسان د ساپوپه جنګونوکې وژل شوي دي نوددې لاندې ټيکۍ نه معلومږي چې ولس هم د جنګ نه ستړی شوی و:

سليميه روغه وکړه
ساپۍ دي لنګې شوې د ګټو په سرونو

د خاص کونړ په ولسوالي کې د ساپود کال د بمباريو دري نمونويادونه کوم چې يوه يي د تنر په کلي کې د اخوندزادګانو د ميرزا عزيزخان په کوروه چې يولس کسه ښځې او نارينه پکې ووژل شول چې د بمباريو د ويرې دوی ونه شو کړای چې خپل مړي په خپله هديره کې ښخ کړي نو دوی خپل مړي د خپلې قلعه نه بهرد شپې له خوا ښخ کړل چې د دوی قبرونه اوس هم هلته شته دی. همدا شان د تنرسره نږدې د پاچيانو په بانډه باندې بمباري وه چې په هغه کې زما د مور خور چې ددې نه مشره وه او هم د عصمت الله روحانی[9] مور او يو ګڼ شمير نور کسان پکې ووژل شول. دريمه بمباری د منګوال سره نږدې د سيد حنيف پاچا په کور وه چې ګڼ شمير کسان د هغه په قلعه کې راټول شوي و اود حکومت جنګي الوتکوپری بمباري کړې وه. د داکټر سيد قاهرعاطف په قول چې هغه وخت کې د دولس يا دريالس کلونو په عمر و، په دغه بمباری کې څلورويشت کسه ښځې، نارينه او ماشومان شهيدان کړی شول.

که څه هم حکومتي قواو ډيرتلفات درلودل خو ددې سره مقاومت يي هم کاوه او دخاص کونړکنډک تر اخره مقاومت وکړاوولسي لښکرو ونه شو کړای چې د خاص کونړد کنډک چونۍ ونيسي نودا ټيکۍ يي ښه نمونه ده:

خلک دی داسي زامن راوړي
لکه کوچي چې کندکي[10] راوړي دينه

او داسي هم شوي چې يو شميرعسکرومقاومت نه دي کړی او خپله خوښه يي ځانونه تسليم کړي دي لکه چې د لاندي ټيکۍ نه معلوميږي د خاص کونړد غونډۍ دپاسه چونۍ چې يو ټولی عسکر هلته و او مهم سوق الجيشي اهميت يي درلوده ددې ټولي قوماندان پريښودلي وه او ټښتيدلی و:

چونۍ يي په سازه ورله پريښوده

[9] عصمت الله روحانی دا مها ل په کانادا کې اوسيږی

[10] کندکي مخاطب ددی قشله کندک مشر ته خطاب دی او دا معلوميږی چې د دی کندک قوماندان اصلا کوچي يا احمدزی و

فقیر[11] جامې د جنکواغوستې وې

**دګلاپړي جګړه:**

د ګلاپړي جګړې اصلي عامل دا و چې د تیمور په نامه یو تن چې د ګلاپړي د سیمي د اډوخیلو د قوم نه و، په اوړي (دوبي) کې د شپې له خوا به يي د پښد په کلی کې غلا کوله خو خلک نه پوهيدل چې دا څوک دی ځکه تیمورچې ښه معززسړي و د شپې له خوا خپل کالي (جامي) ویستلې او په ځان به یي شګي شیندلې اوپه لاسونو به یي خنډ داره څپلي چې میخونه به پکې و په لاس کولې . څرنګه چې په کلې کې بلد و نو هغه کورته به ورتله چې ښه معلومات به ورته و چې سړی (نارینه) پکې نشته دی او که د کور څوک به پرې راویښ کیدل نوپه هغه به یي د څپلی ګذارکاوه اوچا نیولی نه شو. نو په دی توګه د ولس ترمنځ اوازی شولې چې د پښد په سیمه کې بربانو(لوڅ پوڅي یا بي جامونفر) پیدا شوي دي او چا به ویلی چې انسان دی او چا به ویلی چې پیری دی اوټوله سیمه يي د تشویش سره مخامخ کړی وه. باالاخره د کلی ځوانان سره راټول شوی وچې دا بربانو باید خامخا ونیسي ځکه د کلی لپاره دبي عزتی خبره ده چې د کلی د کورونونه غلاوی کیږي. دوي په همدی مصلحت کې و چې اوازه شوله چې بربانوپه کوم کور ورغلی او د کلی ځوانان ورپسي شوي دي او بربانو يي نیولی دی. ترڅو چې دا پیژنی د ونی پوری يي تړي او چې وهي يي نوتیمورخپل ځان ورپیژندلی دی اوعذرونه يي مشرانو ته کړي چې ما مه وهئ او زه خدای او د پښد اولیاو ووهلم چې غلاوې می کولې او ويي شرمولم. د کلی مشران چې سخت په قهرو ځکه ده د دوی د کورونو بی عزتي کړی وه نوتیموريي همداسي لوڅ د خاص کنړ ولسوالي ته چې هغه وخت د سرکانو ولسوالي هم د خاص کنړ د ولسوالی پوری مربوط وه راوستي و. په دغه عمل دګلاپړي دسیمي هډوخیل چې د دوی د مشر بی عزتي شوې او لوڅ یي د خاص کنړ ولسوالی ته بیولی دی ډیرپه قهر و نودوه ښځې چې د پښد ډاګ ته مالونه (څاروي) وړي و د هډوخیلو له خوا تښتول کیږي. څنګه چې ددی دوه ښځو د تښتولو خبر د پښد کلی ته رسیږي نو د کلي خلک لښکرکوي او د هډوخیلو نه ښځې خلاصوي او جنګ د دوی ترمنځ دوام پیدا کوي چې باالاخره د جلال آباد نه د حکومت قواوی د پښد سیمې ته ورځي او د ګلاپړی د سیمي خلک ډیر سخت ټکوي او جنګ ختموي. د لاندي ټیکئ نه معلومیږي چې دا جګړه د ښځو د تښتولو نه پیل کیږي ا و هم دولتي قواو ته زیات تلفات اوښتي دي:

که کجکي[12] داري تللي نه وي
غوټئ غوټئ عسکربه ولی رژیدل

د لاندي ټیکئ نه معلومیږي چې د ګلاپړي جګړه د ساپو د پاڅون نه د مخه شوي ده:

د ګلاپړي جنګ يي لا څه و
جنګ د باډیل وچې ګلونه رژیدل

---

[11] فقیرد دی ټولي قوماندان و

[12] پخوابه ښځو په پیکېوکي کري وړي کوڅي کولي چې کجکي به یي ورته ویلي نو دلته اشاره هغه دوه ښځو ته ده چې د پښد ډاګ ته وتلي وي

**دباجوړجنګ:**
د باجوړ جنګ د ۱۹۶۰ م کال د سپتمبر په میاشت کې وشو چې سردارداود خان د سفربری امرورکړ او د باجوړپه سیمه یې حمله وکړه چې دکنړاو مشرقی ډیر شمیر مشران او سپین ږیری په دغه جګړه کې ووژل شول. زما تره وکیل عبدالقادر قصه کوله چې غلام فاروق خان د مشرقي ریس تنظیمه و او په چغه سرای کې د لښکر د مشرانو نه وغوښتل اوورته ویلي و چې د تاسي نه د اصحاب کرامو غوندې غزا غواړم. یو تن سپین ږیری ورجګ شوی و او ورته یې ویلي و چې د مونږ نه د اصحاب کرامو غوندې غزا غواړې نو د اصحابو په وخت کې به پیغمبر مخکې و او صحابه به ورپسې و. ته په جلال آباد کې ناست یې او مونږ نه په تش لاس د صحابه وکرامو جنګ غواړې نوته مخکې شه او مونږ به درپسې یو. ددې جنګ د عواملو په هکله زیاتو څیړونو ته ضرورت دی.

**دویم: د کونړولایت د قومي جوړښت یو ځوبیلګی:**
دکونړ په سیمه کې دیارلس بیلابیل واړه او لوي قومونه لکه ساپي، مومند، ماموند، سالارزي، مشواڼي، ګجر، شنواري، یوسف زي، سیدان، الکوزي[13]، نورستاني، افریدي [14](اپریدي) او پشه یي (شاړي چې په بعضي ځایونو کي د دیګان په نامه هم یادیږي)، او کسبه کارلکه جالوانان، ترکاڼان (نجاران)، مسګران، جولاګان، شاخیل او داسي نور قومونه اوسیږي. مومند او ماموند زیات د خاص کنړ، سرکانو ، او مروره په ولسوالیو کې، سالازي،مشواڼی او ګجر زیادتره د اسمار، دانګام، شیګل او ناړی په ولسوالیوکې، شنواري د شیګل په سیمه کې، سیدان د پشد، سرکاڼو، شونکړک، خاص کونړ او کوز کونو په سیمو کې اوسیږي. ساپی چې د تولو قومونو په پرتله زیات دي اکثریت یي د نورګل، څوکی، نرنګ، وټه پور، پیچ دره او شونکړی په سیمو کې اوسیږی.
ډیری پښتنو او غیرپښتنولیکوالانو او مورخینولکه خوشحال خان خټک، قاضی عطاوالله خان، عبدالحی حبیبی، محمد علی کهزاد، سید بهادرشاه ظفر کاکاخیل،حافظ رحمت خان، افضل خان، راورټی، سراولیف کایرو او داسي نورو د پښتنوپه تاریخ، قومي جوړښت، کلتور او دودونو باندی ډیری لیکني کړي دي نو دلته به ماته ګرانه وی چې نورڅه ورزیات کړم. خویوڅه چې د اوسني وخت سره سر خوری هغه دادي چې د پښتنو یا افغانانوپه قومي جوړښت باندی پوهید ل ضروري دي ځکه چې د دغه جوړښتنو په بنیاد دوی ګټه او تاوان، مشران او نمایندګان تعینوی او ددوی دا اصول د اوسنی نړۍ د دیموکراتیکواصولونه هم په ښه شکل صورت نیسي او دا ویلی شم چې د پښتنو محلی قومي جوړښت د دیموکراسۍ په اصولو ولاړ سیستم دی او همدا علت دی چې په جرګو او مرکو کې هر څوک برخه اخستلی شي او ټول مسایل د یو بل سره په تفاهم حل کوي او دا ډول تفاهم چې په ټولنه کې ثبات راولي او اجتماعي عدالت تامینوي د Restorative Justice یا ترمیمي عدالت په نامه یادیږی چې ترمیمي عدالت په نړی کې د Punitive Justice یا جزایي عدالت په پرتله ښه نتیجه ورکړې ده.
د بیلګی په توګه مونږ ګورو چې یوه ډیره وړه مسله په کلونو کې د محاکموله لاری نه حل کیږی خو د جرګو له لارې په ډیره کمه موده کې حل کیږي . په جزایي عدالت کې قاضي یوازې په مجرم حکم کوي خودا نه ګوري چې د دواړو خوا ترمنځ به دا حکم دښمني په راتلونکي کې ختمه کړي او که نه.

[13] الکوزي د سرکاڼو په ولسوالي کي اوسیږي
[14] د میرزمان خان کورني اصلاً افریدي دي

اما په ترمیمي عدالت کې د راتلونکي دښمنی د مخ نیوي هم خیال ساتل کیږي په اسلامي اصولو کې هم عفوه د انتقام نه بهتره ده او عفوه د جرګو او مرکو له لارې کیږی چې دواړه خواوې په دې قانع کړي چې یو بل وبښي. حتی مونږ په خپلو سیمو کې داسې ډیرې بیلګې لرو چې د رسمي محاکمو او دولتي ادارو دلاری مسایل حل شوي نه دي نوجرګو ته یې موضوګاني محول کړي دي.
د پښتنو دا دوه متلونه په خاصه توګه په کونړکې چې زیات استعمالیږي د عدالت او یوالي (مساوات) ښې بیلګې دي چې وایي په زور کلي نه کیږی او یا وایي چې ساپي سم سمکي دي یعنی ساپي ټول سره یو شان حقوق لری او یو پر بل برتری یا لوړوالی نه لري .
دا چې د کونړ هر قوم په څو خپواوخیلونو لکه ساپي په ګربز، ودیر او قندهاری او یا مومند په بیزی، خویزی، حلیمزي او ترکزي تقسیم شوی دی دا ډول معلومات د نورو په لیکنو کې پیدا کولی شئ خو یو څه چې پرې کمې لیکنې شوي هغه په هره ولسوالي د کونړکې او تر کومه حده چې ما د افغا نستان د نورو ولسوالیوپه هکله ریسرچ کړي دي هغه دا ده چې د قومی جوړښت تر څنګ نور محلی جوړښتونه هم شته چې ولس پرې ورځني مسایل حل کوي . ما د خپلې انګلیسي ژبې په مقاله کې چې ددې مقالی په سرکې یادونه شوې دا ډول جوړښت د Non-Recognizable Governance Structure یا په ولسوالي کې د حکومتدارۍ غیررسمی جوړښت په نوم یاد کړی دی چې حکومت یې په رسمی توګه نه پیژني خوولس ورځني مسایلو په هکله ټول تصامیم او پریکړي د همدې سستم په اساس نیسي. په دې توګه د افغانستان په ټولو ولسوالیو کې دا سیستم شته دی.
ددی لپاره چې لږوضاحت وشي، د دی سستم د یو څو نمونویادونه په کونړ کې او د افغانستان په نورو سیمو کې کوم چې د همدې سستم په اساس د بیړنۍ لویې جرګې انتخابات مونږ د کونړاو د مشرقي په نورو ولایاتو کې وکړل او زما د بیړنۍ لویه جرګه په کتاب کې د دی سیستم یو څه یادونه شوې ده.
په هغه ولسوالیو کې چې یوقوم اوسیږي نو د هغه ولسوالۍ ولس په قومي تړه ګټه او تاوان، د مشرتابه ټاکنه، جرګې او مرکې کوي . د بیلګې په توګه د پیچ ولسوالۍ کې یوازې ساپي اوسیږي نو دوی خپل تقسیمات د ساپوپه قومي جوړښت باندې کوی خو د خاص کنړ په ولسوالۍ چې مختلف قومونه اوسیږي ، دوی خپل تقسیمات په وندونو کوي چې بیا هر وند خپل تقسیمات لری. دا وندونه د افغانستان په ولسوالیو کې په بیلابیلو نومونو یادیږي. د هزاره جاتو د جاغوری په ولسوالي کې د منطقه، د فراه د ګلستان په ولسوالي کې د قبیله او د فاریاب د ګرزیوان په ولسوالي کې د تګاو په نومونو یادیږي.همدا شان په بعضی ولسوالیو کې دا تقسیمات د قریوپه شکل دی د بیلګه په توګه د ننګرهار د کامي ولسوالي په ۵۲ او د کابل د بګرام ولسوالۍ په سلو قریو تقسم شوی ده.
د پوره وضاحت لپاره د خاص کنړ د ولسوالي تفصیلي یادونه کوم چې ما پکي پوره څیړنه کړی ده او ددې ولسوالۍ ټول جوړښت په لاندې چارت کې په ګوته شوی دی. د خاص کنړ ولسوالۍ په پنځه وندونو تقسیم شوی ده چې بیا هر وند په کلو تقسیم شوی او بیا هر کلی په پلرني یا سهم تقسیم شوی دی.
په دی تقسیماتو کې دوه مهم ټکي دا دي چې یو خوټوله ګټه او تاوان او حتي عامه ځایونه لکه جبه (د سیند په غاړه غیرمزرعی ځمکه)، ډاک او ځنګلونه ټول په همدی شکل تقسیم شوی او د هر وند ساحه او ځای معلوم دی خو په رسمي اسنادو کې ددی تقسیماتوپه هکله هیڅ معلومات نشته دی. په حقیقت کې دا د دې وندونو ملکیت دی اما دا چې دوی رسمي اسناد نه لري نو د دولت په حساب کوم ځای چې رسمي

سند ونه لري  هغه دولتي ځمکه او ځای دی. په دی سیستم کې تغیرات د خلکو په ملکیت کې بدلون راولي  او دا ډول تغیرات تازه جنجالونه په سیمو کې ایجادوی.  نومحلی چاروکې باید د هرې  ولسوالۍ په هکله دا ډول معلومات راټول کړي ترڅو د ولس د مشکلاتو په حل کې ورسره مرسته وکړي.
که دغه لاندی چارت ته نظر واچوو ګورو چې د منګوال او چمیاری وندې په دوه کلو تقسیم شوی دی چې د سهم په حساب دوه برخي د منګوال او یوه برخه د چمیاری د کلي  ده. همدا شان د منګوال کلی بیا په اوه پلرینو تقسیم شوی دی. په دغه پلرینو کې شپږ پلریني اتمرخیل مومند او یوه پلرینه سهم ارجل (متفرقه) کورنیو ته چې په کلي  کې اوسیږي ورکړل شوی دی.
د پورته تقسیماتو نه دا جوتیږی چې د افغانانو او په خاصه توګه د پښتنو په سیمو کې د اجتماعی عدالت زیات خیال ساتل شوی دی چې حتي د کمزورو کورنیولکه کسبه کاروسهم هم په ټولنه کې خوندي دي او دوی د نورو میشتو قومونوپه منځ کې مساوی حقوق لري. د ۲۰۰۲ م کال د بیړني لویې  جرګې په انتخاباتوکې  دخاص کونړهر وندې خپل نمایندګان یا استازي پخپله په دریو ونډونود منګوال او چمیاری، چندارااولوټان، کونړاوتنرکې په اتفاق د آرا او یا تفاهم په نتیجه کې او په دوه ونډونود شامکاراو حکیم آباد (کلی ګرام) او اراضیوګانوکې دمستقیورایو په شمیرلووټاکل. دا نوع انتخابات د امریکه د ایوا (Iowa) په ایالت کې د کاکس (Caucus)  په نامه یادیږی. کاکس ګروپ یا غونډه ته وایي چې د هر کاندید طرف دارپه یوه ځای کې راټول کیږي بیا د ایالات د انتخاباتو دکمیسون غړي د ټولو په مخ کې د هر کاندید پلوي کسان شماري. په دغه انتخاباتاتوکې د وټ اچول او یا وټ چاپول نه وي او  هم د انتخاباتومصارف ډیر کم وي. د ۲۰۰۲ م کال د بیړنۍ  لویې جرګې  انتخاباتاتو ټول مصرف د مشرقي په ځلورو ولایتونو کې د یولک امریکایي ډالرونه کم وي اما هغه انتخابات د په پرلسي انتخاباتوپه اړوند چې میلونونو ډالرلګښت پرې  شوی  و د خلکوپه نزد زیات مشروع واو د ولس ښه استازیتوب یي کولی شو.
ددی لپاره چې په راتلونکي کې په کمو پیسو مشروع انتخابات په خاصه توګه ولایتي او پارلماني انتخاباتو ته زه د پورته سیستم وړاندیز کوم چې خلک په خپله خوښه نمایندګان د یوي شفافي پروسي په اساس وټاکي او هم د انتخاباتو نتیجه باید په هماغه ورځ معلومه وي تر څو د درغلیو مخه ونیول شي نه داسي چې د وروستیو انتخاباتو نتیجه تر یوه کاله پوری لا معلومه نه وه او پایلې  اوس هم د سوال لاندې  دي.
د دا ډول انتخاباتو لګښت به ډیر کم او د حکومت په وسه به پوره وي چې د انتخاباتومصارف ورکړي نه چې د انتخابات لپاره هم زمونږ لاسونه بهرنیانوته اوږده وي. دا یوه بیله مسله ده چې زیات بحث او سیاسي اراده ته اړتیا لري چې ترڅود افغانستان په انتخاباتي پروسه کې شفافیت رامنځ ته شي او ولس په کې فعاله ونډه وراخلي.




پورته چارت د ولایت، ولسوالي، ونډ، کلی او پلرنی ترمنځ ارتباط ښایي

**<u>دریم: د کونړیه سیمه کې روحا نی نفوذ اوجوړښت:</u>**

د کونړ په سیمه کې د سیدانو یا پاچیانو په نفوذ او په دغه سیمه کې د دوی په حکمرا ني او حاکمیت باندی ما په لومړي بحث کې مفصله رڼا اچولې  خو په دې  بحث کې غواړم چې په نورو روحاني کورنیو باندې په اجمالي  توګه رڼا واچوم. په حقیقت کې د افغنستان په ټولنه کې او د پښتنو په سیموکې د قدرت ستنې  په درې  برخو ویشل شوې  دي  حکومت، قومي جوړښت او دیني  یا روحاني حاکمیت دي. نو ددی لپاره چې زمونږ په ټولنه کې ثبات وی نو د دې  دریو قوو ترمنځ لکه څنګه چې د دولت د دریو قواو ترمنځ همغږي  او ثبات ته ضرورت دی، د دوی ترمنځ هم همغږي  او  همکاری  ته ضرورت د د سیدانو نه برسیره اخوندزادګان، صاحبزادګان، میاګان او نوری روحاني کورنی  چې د صاحب حق صیب په نوم هم یادیږی د کونړ په سیمه کې اوسیږی. داخوندزادګانو کورنی  زیاتره د زیاتوځکمو خاوندان دي او دوی د جلاجلا قومونو پوری تړاو لري. د کوز کونړ د ګوریک اخوند زادګان چې مشر يي عبدالقدیراخون زاده نومیده په قوم بابوکرخیل دی. اما د خاص کونړ د چندراو اخوند زادګان چې مشر يي محمد معظم اخون زاده نومیده خورا مشهوره شخصیت و، دوی په قوم یوسف زي  دي. همدا شان د خاص کونړ د تنر دکلي  اخوندزادګان چې مشر يي عزیز خان اخون زاده نومیده، هم په قام یوسف زی دی خو د پیچ دره طلب الدین اخون زاده چې د پیچ د سلطان محمد خان پلار و، په قوم ساپی دی. د دې نه معلومیږي  چې په هر قوم کې که کوم ښه او روحاني  شخصیت تیر شوي  وي هغه داخوندزاده په نوم یادشوی او وروسته د هغوی  کورنی  داخوندزادګانو په نوم شهرت موندلی دی.

میاګان هم په مختلفو قومونو پوری تړاو لري خو یو شمیريي سیدان هم دي  د بیلګې  په توګه د پشد د میا عباس بابا کورنی  اویا زمونږ کورنی  چې د میا علي  صیب لمسی یواو زما نیکه د منګوال میا صیب په نوم شهرت درلوده چې اصلي نوم يي سید محمد نعمان و. صاحب حق کلمه هم د اخوندزادګانو په توګه ښه اوروحاني شخصیت ته استعمال شوې ده چې په کونړ کې د څوکی د سیمې صاحب حق صیب او  هم د شونکړی د سیمې د انځری ملاصیب زامن په صاحب حق شهرت لري.

د پورته روحاني کورنیونه برسره د تصوف د قادریه ګروپ پیرانواو موذنانو د کونړ او  خاصتا د مشرقي په سیمو کې خاص نفوذ درلوده او ډیر منظم تشکیلات يي درلودل چې د وخت د حاکمانو نه د دې شخصیتونورول او نفوذ خورا زیات و. د دې  سلسلې  یوه مهمه کړی  د ملا نجم الدین اخوند زاده[15] چې د هډه صیب په نوم هم شهرت لري، پیروان دي. ملا نجم الدین اصلا د غزني  د شلګرد سیمې و، د ننګرهار د هډه په سیمه کې میشت و او  هلته يي لنګر درلوده. هډه صیب په زرهاواو حتي په لکهاو مریدان يي درلود. ملا نجم الدین پخپله د ملا عبدالغفورچې د اخوند صیب د سوات په نوم يي شهرت درلوده موذن و. د هډه صیب مشهوره موذنان د کونړ د سرکاڼو میا صیب، حضرت صیب د بت خاک، حضرت صیب د چارباغ د سره رود، ملا صیب د بړو، دلغمان د سنګرشیخ صیب، د لغمان د تیرګړو پاچآ صیب چې د شمس الدین مجروح پلارو، ملا صیب د تګاو (ملا حمیدالله) چې د میا ګل جان آغا پلار و، او صوفی صیب د بټی کوټ و. د دی سلسلي په دویم پړاو کې موذنان د ترنګوزو حاجي صیب، د چکنور ملا صیب، د کوز کونړ د سلام پور پاچا صیب (میر صیب جان پاچا)، د کجوری ملا صیب،

---

[15](Anthropologist) ددی روحاني کړي په هکله ما د ۱۹۸۲-۱۹۸۴ م کلونوپه موده کې په پېښور کې د یو امریکـایي انتروپولوجست دیوید ادواردز سره تحقیق کړی چې نوموړی په دی باره کې اوهم د افغانستان په اړوند دوه کتابونه په انګلیسي ژبه لیکـلی دي چې یو د وخت قهرمانان او بل د طالبانونه د مخه د افغنستان د جهاد جینیالوجي یا شجره په نوم یادیږي.

ملاپاینده محمد چې داستاد صیب د هډه په نوم یي شهرت درلوده اود مولوی احمدګل او مولوی محمدګل روحاني پلارو، د کونړ د شونکړی د سیمي انځری ملا صیب، او زما نیکه د منګوال میا صیب یادونه کولی شم. دا پورته شخصیتونو په خپلو سیمو کې د خورا نفوذ خاوندان او انګریزانو په مقابل کې د زیاتو غزاګانو مشري د دوی په غاړه وه. د کوزې او برې پښتونخوا په سیمو کې د انګریزانو سره د پښتنودغزاګانوپه سلسله کې انګلیسي لیکوالانوخاصتا د سوات د اخون، د هډه صیب او ترونګزوحاجي صیب زیاته یادونه شوې ده. هډه صیب پخپله واده نه و کړی او اولادونه یي نه درل
دلته زه یوازی د کونړ د سرکاڼو میا صیب په هکله رڼا اچوم. د سرکاڼو میا صیب اصلا دننګرهارولایت د کامه ولسوالي د قلعه اخوند د کلی و او د هډه صیب په امر په سرکاڼو کې دیره شوی و. د سرکاڼو میا صیب د هډه صیب د مشهورو موذنانو نه و او د کونړپه سیمه کې د ده روحاني نفوذ خورا زیات و. زما نیکه سید محمد نعمان چې د امان الله خان په وخت کې د پیچ دره حاکم و نو په هغه وخت کې موټري په نشت کې حساب ویي او سرکونه نه و نوزیادتره وخت به چې د کونړ نه خلک جلال آباد یا پیښورته تلل او یا به یي د لرګو تجارت کاوه نو د کونړ د خوا به له یوه طرفه په جالو[16] کې د کونړپه سیند کې تلل.
زما پخپله یو ځل یادیږی چې زه ډیر وړوکی وم چې د پلار سره می د خاص کونړ نه ثمر خیلو پورې په جاله کې تللي وم
زما د مشرتره وکیل عبدالقادر په قول یو وخت زما نیکه د پیچ نه په جاله کې کامه ته تله او په سرکاڼو کې یي دسرکاڼو میا صیب سره دمه کړې وه نوځرنګه چې دواړو سره د پخوا نه پیژندل ځکه زما نیکه هم د کامې د قلعه اخوند د مستعلي په سیمه کې اوسیده او هلته یي ځکمي او جایداونه درلودل، نوزما نیکه ته یي ویلي و چې دا حاکمي دی پریږده اوفقیري (صوفي طریقت) اختیارکړه ځکه جنډې (بیرغونه) په حاکمانو نه دي ولاړې او دا په فقیرانو ولاړې دي . زما نیکه د سرکانو میا صیب سره یي دا ومنله چې دده نه به طریقه (لاس نیوکه) کوي او د همدی سفر نه وروسته یي حاکمي پریښوده. څه وخت وروسته د سرکاڼو میا صیب زما د نیکه نه وغوستل ددې لپاره چې د خدای پاک ذکر او عبادت ته وزګار شي نو ښه به داوي چې خپل وطن کامه هم پریږدي ځکه په وطن یا خپل ځای کې د مال یا نورو مسایلوپه سرلکه ګوندي اوپره، همیشه لانجی پیښیږي نو راشه او د منګوال په کلی کې دیره شه. زما نیکه د سرکاڼو میا صیب آمر قبول کړ، کامه یي پریښوده او خاص کونړد منګوال په کلي کې دیره شو. د منګوال خلکو ورته په کلي کې یوه قلعه جوړه کړه او سرکاڼو میا صیب دسرکنډ، شالی، ولي، شونکړي او خاص کونړ سیمو خلکو ته وویل چې هغه لنګر(اړه)چې دوی سرکاڼو ته وړله هغه د منګوال میا صیب ته ورکوي. هماغه و چې په منګوال کې زمونږ د نیکه په نامه لنګرو، شیخانوبه ذکرونه او عبادتونه کول او د لنګرخدمت به یي هم کاوه. څرنګه چې زما نیکه دیني عالم او حافظ د قران هم و نو د کلي او شاو خوا سیمو خلکوته یي دینی زده کړې هم ورکولې اوحتی بعضې مشرانوهم زما د نیکه نه

[16] جاله به دغوایانود پوستکونه چې خیګ به یي ورته وایه جوړیده. خیګان به جالوانانوپه یوره مهارت چې کله به ودونه او خیراتونه و د غوایانو یا غواګانونه نه ویستل او هغه به یي بیا دی ته تیارول چې هوا پکي پوه کړی او بالون په شکل په او بو کې ودریږی. د دی خیګانو څو دانی چې څلور خیګه، اته خیګه، دولس خیګه یا شپاړس خیګه به و سره تړل او د کونړ د سیند نه د خلکوپوری وتل او راپوری وتل د همدی جالوپه وسیله وځکه په هغه وخت کې د کونړ په سیند پلونه نه و. هری سیمې به جلاجلا جالوانان درلودل چې ولس به ورته د حاصلاتو په وخت کې دانې ورکولی. اوس جالی ډیری کمی دی او خیګانو په عوض د موټرو ټوپونه استعمالیږي.

سبقونه ویل چې یو مثال یي د منګوال ملک امانت خان وچې کله به د ملایانو سره مخامخ کیده نو دینی بحث به یي ورسره کاوه څکه ده خلاصه، کنزاوڅه نورکتابونه زما د نیکه نه ویلی و.

ملک امانت خان د خاص کونړ ډیر نامتو سپین ږیری وچې د ثور د کودتاه نه وروسته مړشو. کله چې فرقه مشرعارف خان دساپو په کال کونړته راغی او د خاص کونړپه سیمه کې د مشرانو سره د کتلو په وخت د نفوس غوښتنه وکړه خو د خاص کونړسپین ږیرو د ده د غوستنی تردید وکړ او سپین ږیرو په استازیتوب ملک امانت خان خبرې وکړي. عارف خان ملک امانت خان په سل ګونو لښتو ډیر سخت د خلکو په مخ کې وواهه خو ملک امانت خان ورته وویلي چې که اره راوخلي او زما په سر یي کیږدې او دوه ځایه مې هم کړې او دا ټول کونړ درسره نفوس ومني زه یي نه منم. زما د تره په قول امانت خان یي دومره وواهه چې خبرې یي نه شو کولی خو د عارف خان خبره یي ونه منله. وروسته د امانت خان ملک او عارف سره پوره انډیوالي شوله او کله چې عارف خان د دفاع وزیر شو نو امانت خان به کله کله هلته ورتله.

کله چې سرکانو میا صیب وفات شو نو زما نیکه به د منګوال نه هره جمعه سرکانو ته تللو او هلته به یې د جمعې لمونځ ورکاوه ترڅوچې دی هم په ۱۳۲۳هجری شمسي کال کې وفات شو. د سرکانو میاصیب بل موذن د شونکړي د سیمي انځری ملا صیب وچې د ۱۳۴۰ هجری شمسي کلونو په شاوخواکې وفا ت شوی دی.
ددی روحاني شبکو او کورنیو نه برسیره د کونړپه سیمه کې مهم عالمان هم و چې په مختلفو سیمو کې به اوسیدل او هلته به یي د تدریس کړی درلودې چې زیادترو به زیات طالبان او چنیان درلودل. د تدرسي کړیو په لړکې د خاص کونړ د چندرا داخوندزادګانو په جومات کې مولوي عبدالمتین چې ډیر ښه دینی عالم و تدریس کاوه او ډیر زیات شاګردان یي درلودل. مولوی عبدالمتین اصلا د مزار دره د شوماش د کلي اوسیدونکي و چې د ثور د کودتاه نه وروسته یي په جهاد پیل وکړ او د زیږي بابا په سیمه کې شهید شو
همداشان د کونړدکلی په جامع جوماتونو کې هم تدرسي عالمان و او زیات شاګردان به یي درلودل لکه د چلس مولوي صیب په نامه مشهوره عالم هلته تدریس کاوه. د کلی ګرام (حکیم آباد) مولوی صیب عبدالحنان او د هغه زامنو هم لویه تدریسي حلقه درلوده. د کونړ مولوی صیب حسین چې وروسته په مولوی جمیل الرحمن شهرت وموند خورا فعاله و او د کونړد جهاد د موسسینو د جمله نه وچې د جماعت دعوت والقران الی السنه په نامه چې د سلفیانو په نوم یادیده جلا تنظیم جوړکړی و. ددی علماواو ددوی د اغیز په هکله زیات تحقیق او ریسرچ ته ضرورت دی. څرنګه چې دی علماو په مذهبی او فقهي مسایلوپه سراختلاف درلوده نود دوی داختلاف په وجه به په ولسونوکې لانجې او مشکلات هم پیدا کیدل او حتي په بعضی مواردو کې به د دوی اختلاف د شر سبب هم ګرځیده. دا عالما ن د حنفی، وهابی، پنج پیرو او اهل حدیث په ډلو تقسیم شوی و.

**ځلورم: د کونړپه ولایت کې د دودنو بیلګې:**

دکونړد سيمي خلک د افغانستان د نورو سيمو او خاصتآ د پښتنو د سيمو په شان دودونه لري. د کونړخلک خپل ورځني مشکلات د جرګو او مرکوله لارې حل کوي. که څه هم د کونړخلک د افغانستان د زياتوسيمو په پرتله په مادي لحاظ ډېر غريب دي خود کونړد خلکو ديرې او حجرې او ميلمه پالنه زيات شهرت لري. ټولنيزکارونه د اشر په توګه کوي او د غم او ښادۍ مراسم د کونړو خورا درانده وي او د هر چا خپل او پردي په کې په خورا مينه او محبت سره برخه اخلي. غواړم چې په دي برخه کې ددی دودنويولړوضاحت وکړم.

**ميلمه پالنه:**

د کونړ د سيمي خلک د افغانستان د نورو سيمو په شان قدرمن او ميلمه پال ولس دی. هرکونړی د ميلمه لپاره ديره او حجره لري او د ميلمه د ځای درلودل د هر کونړي د ضروورياتو د لومړيتوبونو نه دي. د کور ښه لوښي او اسباب د ميلمه لپاره ساتي اود ټولو نه ښه خواړه ميلمه ته ورکوي. د کونړديرې او حجرې په حقيقت کې د مکتب حيثيت لري چې ځوانان د خپلو مشرانو نه ادب او تربيه او هم د پښتونولي اصول او نرخونه زده کوي. د کونړ حجری د ميلمنو د پالونو نه برسيره دخوشالۍ او بنډارونو مرکزونه هم دي. په ښه او بده کې د کلي ميلمانه په حجرو تقسيموي او په دی توګه په يوي کورنۍ بوج يا بار نه راځي.

**جرګې او مرکې:**

دا چې د کونړ سيمه غرنۍ ده هميشه د مرکزی يا محلی حکومتونو نفوذ په دغه سيمه کې ضعيفه ونو حکومتونو او ولس هميشه خپلې ستونزې د جرګواود تفاهم له لارې حل کړي دي. ولس هم اکثريت ستونزې د جرګو له لارې حل کوي. جرګه ځان ته اصول لري او د جرګوفيصلې هميشه د قضيه دواړو خواو او هم و لس ته د منلو وړ وي ځکه جرګه د دواړو خواد تفاهم په صورت کې جوړيږی.

دجرګې اصول په لاندي ډول دي:

۱. د جرګه غړي بايد دواړو خواته د منلو وړوي.

۲. کله چې جرګه جوړه شي نو دواړه خواوې د جرګې غړوته واک ورکوي.

۳. د واک نه وروسته د متخاصمو خواو ترمنځ د موضوع د اهميت په اندازه جرګه مار د دواړو خوا نه مچلغه (ګرنټی) اخلي.

۴.د مچلغه نه وروسته، جرګه مار د موضوع ټول اړخونه څيړي، د دواړو خواو ادعاوی او شواهد مطالعه کوي او هم د موضوع په ارتباط ټول اسناد او د شاهدانو خبرې اوري .

۵. د موضوع د ښه څيرني نه وروسته جرګه مار د رايو په اتفاق فيصله دواړو خواته اعلانوی.

۶.که د جرګې فيصله دواړو خواته د منلو وړ وي نو بيا هغه فيصله دوی پخپله تطبيقوي او دواړه خواوې سره دلاسه (پخلا) کوي.

۷.که دجرګه فيصله کومې خواته د قبول وړ نه وي نوجرګه مار د هغه خوا مچغله نه ورکوي او هم که بيا بله جرګه تعينيږي نو دلومړۍ جرګې د فيصله په رڼا کې فيصله کوي.

۹.که د قضیه کومه خوا په راتلونکي کې د جرګې د فیصله نه سر غړونه وکړي، جرګه مار بیا د خپلې فېصلې نه باید دفاع وکړي او چاچې فیصله ماته کړي وي د هغه نه بیا ناغه (د خلاف ورزي جریمه) اخلي.
۱۰.مهمه مسله چې په جرګوکې د جرګه د فیصلې تطبیق دی او دا ډول عدالت د غیر رسمی عدالت په نامه هم یادیږي.

څنګه چې مخکې یادونه شوې دا رقم عدالت ته چې په ټولنه کې توازن مراعات کړي او د ټولني دثبات سبب وګرځي دترمیمي عدالت په نامه یادیږي. د امریکې په عدلیي سستم کې د جوری[17] سیستم هم جرګه ماروته ورته دی خود جوری په سیستم کې د جوری غړي د محکمه له خوا او دجرګه په سیستم کې د جرګې غړي د دواړو خواو(مدعی او مدعی علیه) په توافق تعینیږي چې دوی په حقیقت کې د دواړو خوا د مدافع وکیلانو په توګه وظیفه اجرا کوي او د خپل اړخ له خوا په جرګه کې دفاع کوي. اما د جوري په سیستم کې د جوري غړي د دواړو خواو وکیلانو ادعاګانو او د شواهدو وړاندې کولو ته غوږ نیسي او په اخره کې جوري د جرګه په شان باید په اتفاق آرا سره فیصله وکړي که یو کس هم مخالف وي نو محکمه بیا قصه د سر نه پیل کوي او بله جوري تعینوي. په دی توګه زمونږه د جرګو سیستم د امریکې د عدلي سستم یا د جوری سیستم نه په مخ تللی دي. البته هر سیستم قوي او ضعیفه ټکي لري خو که زمونږ د جرګو سیستم په سمه توګه عملي شي نو زه فکر کوم چې زمونږ د ولس ډیر مشکلات حل کولی شي.

**<u>اشراو بیګار:</u>**
پخوا د پښتنو په سیمه کې او خاصتآ د کونړ په سیمه کې ټولنیزکارونه لکه د سربند، ویالو، سرکونو، مکاتبواو دولتي ودانی جوړول، د درمندونوغوبل اود ځمکوکر او کیله، د جوماتونواوحتی د کورونو جوړول او اخیړ(کاګیل) ولس په اشر او بیګار په توګه کول. د اشراو بیګار ترمنځ فرق دادی چې بیګار د زور او جبر شکل لری او اشر د خوښی په توګه برخه اخستنه ده. اشرپه عین حال کې دیورشکل هم لري که یو کس دچا سره اشر وکړی نو هغه هم مجبوره دي د دي کس په اشر کې برخه واخلي. د اشر کوربه همیشه کوشش کوی چې د اشرګډونوالو ته ښه خوراک برابر کړي. په خپله سیمه کې د درمندونو په غوبلونواویا دځکمو د کرکیلی په وخت کې به چې مونږ په اشرونو کې برخه اخسته خورا په زړه پوري وه چې هم به ټولو په خورا مینه او محبت سره کارکاوه اوپه شریکه به د ډوډي خوراک خورا خوند کاوه چې هغه خوند ماد دنیا په لس ګونو ملکونوچې ما سفرونه ورته کړي او یا اوسیدلی یم په خوراکونو کې نه دی لیدلي. هغه وخت کولسترول چا نه پیژندل اودغوړو او خصوصآ دسوچه غوړیویعني دغوا د غوړیو د خوراک نه چا ویره نه درلوده. همداشان په هغه وخت کې انجیوګاني نه وي او نه بهرني کمکونه ته عام ولس سترګې په لار و نو ټول کارونه به ولس پخپله کول. پخوا پیسې کمې وې خو همت د خلکو اوچت و او چا ته یي لاسونه اوږده نه نیول خو په تیرو دری لسیزو کې چې مونږ

[17] Jury

یو لوی تاوان کړی دی هغه زمونږ ستړګي نورو ته دي چې حتی په دې امید یو چې نور زمونږ د کور مخه راته هم باید پاکه کړي او په یو شکل مونږ ټولو نه او حتی زمونږ د حکومت نه هم سوال ګرجوړشوی او په دې طمعه یو چې نور دې مونږ ته هر څه وکړي او په اصطلاح د مونږ نه د سید محمود پاچا لټان جوړشوي دي. د غربي نړۍ د پرمختګ اصلي څلورعلتونه زه په ګوته کولای شم چې په حقیقت کې دوی دا د اسلامي اصولونه اخستلي دي:

۱.د ټکس یا مالیې سیستم دی چې حکومت د خپل ولس نه مالیه ټولوي او تر زیات حده حکومت مالیه بیرته په شفافه توګه د خپل ولس د ښیګڼو لپاره مصرفوی. په اسلامي سیستم کې زکات او عشر هم د ټکس یو سیستم دی او کله چې زکات او عشر په سمه توګه راټولیده او په بیت المال کې خیانت نه کیده نو اسلام هم پر مخ روان و.

۲. په امریکه کې شعار دا دی چې یو نسل بل نسل ته کارکوي. یعني تیرو نسلونو که څه کړي د هغه نه مونږ ګټه اخلو او مونږ چې څه کوو نو دهغه نه به زمونږ راتلونکی نسل ګټه پورته کوي. دا عمل د هغه مقوله مفهوم دی چې علی (رض) ته منسوبیږی چې وايي د د نیا کار داسي کوه چې هیڅ نه مرې او د اخرت کار داسي کوه چې سبا مرې . خوافسوس زمونږ په منځ کې دا رواج اوس دی چې د کوم کار نه زه تری ګټه نه اخلم نو ماته يي څه او یا که یوه ژرنده اوړه پیدا کړونه بیا لاس تر زني ناست یو ترڅو مو چې هغه نه وی خلاص کړی نور کار نه کوو. مګرپر مخ تللي هیوادونه په موجوده پرمختګ قانع نه دي اوپه دې هڅه کې دی چې نور پر مختګ هم باید وکړي.

۳.غربي نړي همیشه په دی فکر ده چې دوی به خپل وطنونه پخپله جوړوي او بل چا ته به ستړګې په لارنه دي خو مونږ په دې فکر یو چې نورباید مونږته هر څه وکړي. په پښتو کې متل دی وایي چې ته حرکت وکړه خدای به په کي برکت واچوي. که مونږپه ربښتیا د وطن د جوړیدو فکرپه خپل لاسونو پیداکړونوبیا خدای په کې برکت اچوي.

۴.غربي نړۍ د پرمختګ بل دلیل د قدرت نه میراثیتوب کیدل دي. کله چې په اسلامي هیوادو کې قدرت میراثي شونوپیشرفت هم ختم شو ځکه چې د حکومت ټولې منابع د پادشاهانود عیاشي او یا د هغوی د قدرت ساتلو په مقصد مصرفیدې نه د ولس د خدمت لپاره. نوځکه اسلامي او غیراسلامي هیوادونه چې هلته قدرت میراثي دی وروسته پاتې دي.

**موسقی او لوبی:**

د کونړخلک دخپل ساعت تیري لپاره محلی موسیقي لکه منګی او سیتارلري چې په حجروکي ځوانان راټولیږي او درخصتۍ یا ښادیو په مراسمو کې ورته غوږنیسي. که د چا کوم نازولی یعني زړه پوري میلمه وي نو هم ورته په حجروکې د سیل محفل جوړوي. پخواچي د موسیقی وسایل ډیر کم و نوچې کله به د چا واده په کوم کلي کې و او مجلیسان (سازنده یا په اوسنی اصطلاح هنرمندان) به يي راوستي و نو د ډیرو لرو لرو ځایونونه به ځوانان او حتی مشران ډلې ډلې ورتل او ګیسونه[18] به يي په دیروکې لږولي و او ترسبا تر اذانه به يی د سازتماشا کوله.

---

[18] پخواچې نه جنیټرونه اونه سولرشیشي وي نودتېلوګیسونه به وچې زیاته رڼا به يي کوله او هغه به هم ډیروکموکسانودرلوده اویوبل ته به يي د ښادیو اویا نورومراسموکي ورکول

مختلفی محلي لوبي لکه ډنداس، تیره اچول، پټ پټوني، د زرکواو سیسیوښکار، د ماهیانو نیول، خوسی، د مرغیو نیول په ځنګلونواو توپان جال په وسیله خورا دلچسپې وې . د مني او یا دپسرلي په اخرو وختونو کې به د مرغیو ښکار خورا زیات په زړه پوري و. زما یادیږي چې د کونړد سیند په غاړه به د لوښو په ځنګلونو کې خلکوکوډي ګاني وهلې او د مني د مرغیو وخت به چې شو نونفر به موظف و چې د ځنګل په غاړه څوک تګ او راتګ ونه کړي تر څو چې دچونچونو(چوغکو) سیلونه هلته کیني او بیا ماسختن به څوکسوتناب وهه او دا چونچونې به د ځنګله بل اړخ ته الوتلي چیرته چې به خلکود لوړو کوډی ګاني جوړې کړې وې . کله به چې دا مرغی په دې کوډی ګانوکیناستلي نو په لاسونو به خلکونیولي او هرڅا به ورته د څادرنو نه بوجونه (کڅوړي) جوړکړي و اوپه هغه کې به یي اچولې او وروسته به یي حلالوې . تکړه او ماهر کسانو به هره شپه په سل ګونو مرغی نیولې. هغه کسانوبه چې تناب واهه نوخلکوبه هغوي ته هم په نیول شوی مرغیوکې سهم ورکاوه. ددې مرغیو نیولو به یو جدا خوند درلود چې ماپه نورو سیمو کې نه دی لیدلی. د دې نه برسیره به په دیرو کې د شپې له خوا د لاټین او یا چرباتي (لاسي څراغ) په رڼا په لیندو باندې هم ځوانانو مرغی ویشتلي چې دا ځانګړی ډول د ښکارو. په ژمي کې د کونړد سیند په غاړه به د ایلیو او شامتوروښکارخورا خوندور و او زما به د کونړ ته د ژمیو په رخصتیو کې د ورتګ په موقع همدا کار وچې روسي چره یز (دوازده بر) د ګل چاپ می راته پلار اخستي او هم می انګلیسي بادي ټوپک درلوده اوهمیشه به مي ښکار کاوه. شوقي کسانو به مړه زان اوتازي سپي هم ساتل. نوري عصري لوبې خاصتا د مازدیګر له خوا د ولیبال لوبې په کونړ کې ډیرې عامې وې چې اوس هم رواج لري. حتی د طالبانو په وخت کې هم ولیبال د هغوی ډیر خوښ و او دا یواځینی لوبه د تفریح د ځوانانو لپاره وه.

د کونړ په سیمه کې او خاصتآ د خاص کونړ په سیمه کې به د اخترونو مراسمو خورا خوند کاوه او اکثریت دولتي مامورینو، شاګردانو او محصلینو د کابل او یا نورو سیموکې چې به یي دندي درلودي نو کوښښ به یي کاوه چې د اختر په ورځو کې خپلو کلو او باندو ته ځان ورسوي او اختر لمونځ د خپلو خپلوانو او عزیزانو سره یو ځای وکړي. د اختر لمانځه ته به چې د ولسوالیو په محدودو ځایونو کې کیده ډله ډله مشران، ځوانان او ماشومان چې نوي جامې به یي اغوستي وې تلل او په کلو او باندوکې د دي خلکود تګ لیکو (قطارونو) خورا خوند درلوده. د اختر د ورځی خواړه پراټې، د شیدو چایونه، میانچې، وچې ایشلې، پشدی وریجي او کبابونه و. د ا ختر د ورځو د میلو ځایونه معلوم و. په خاص کونړ کې د اختر د لومړی ورځی میله د تنر د کلی سره اود دوهمې ورځی میله به د ګورګوری بابا په زیارت کې چې اوس د منګوال لیسه هلته ا و ددریمې ورځي میله به د چمیاری د کلی د سلطان بابا په زیارت کې وه چې د سیمې اکثریت دوکاندارانو به د اخترد لوبوشیان ا و خواړه هلته وړل اوخرڅول به یې. دا ویلي شم که پخوا پیسي کمې وې نو خوشحالي زیاته وه او خلکود یوبل سره خورا مینه درلوده او هم صداقت ډیر زیات و. مګر د تیرودری څلور لسیزو د جنګونو له امله زمونږ ځوان نسل د پورته خوشالیو نه محروم پاتې شوی او د خپلو سیموښې خاطری یي نه دي لیدلي. خدای وکړی چې زمونږ هیواد کې امنیت برقرارشي چې تیري ښې خاطری بیا راتازه شي